پوهندوی آصف بهاند

# «ښځه ناقص العقله؟ ده»

## د افغانستان ښځې، دننه په وطن کې ناقص العقله بلل کېږي،

## خو نور خلک د هوښیارۍ جایزې ورکوي

تېر کال (۲۰۲۱م) مې چې د مارچ د اتمې په پار کومې مقالې خپرې کړې وې، د هرې مقالې په پیل کې مې دا مقدمه خپره کړې وه، سږکال (۲۰۲۲) مې چې بیا د مارچ د اتمې په پلمه څه لیکلي دي، د هرې مقالې په پیل کې یو ځل بیا دا مقدمه خپروم.

سږکال (۲۰۲۱) هم لکه د تېرو کلونو په شان غواړم د ښځو د نړیوالې ورځې په پار ګڼې داسې مقالې ولیکم چې د مېرمنو په باب زموږ د ټولنې منفي او مثبت افکار څرګند کړي، څو وتوانېږم چې په ټولنه کې او د خلکو په افکارو کې د افغان مېرمنې اوسنی حالت خلکو ته وښیم. په مثبتو پاینټونو به یې خامخا وياړو او په منفي به یې هغه څوک زورېږي چې د ښځو د حقونو پلوي دي، پر متضررې خو هسې هم سور اور بل دی. د دې زورېدو او اور بلېدو تر څنګه به مو ټوله هڅه دا وي چې د مېرمنو په باب د خلکو د اذهانو منفي اړخ په مثبت ډول بدل کړو.

که زما په مقالو کې د تلې منفي خوا درنه وي، ما به نه ملامتوئ، همدا مو خلک دي، همدا مو ټولنه ده او همدا یې د ښځو په باب نظر دی چې باید د بدلولو هڅې یې ګړندۍ کړو. زه چې د ښځو په باب له دوی سره د تاوتریخوالي او منفي کړونو یادونه کوم، اصلي موخه مې د ښځو د غږ جګول او له دې ناوړه حالت او ستونزو نه د دوی ژغورل دي.

افغان مېرمن:

د مارچ د اتمې تر لمانځلو او ډالیو نه مو زه درتېره یم،

مه مې وهئ!

مه مې رټئ!

مه مې ښکنځئ!

نور څه مه کوئ، د انسان په سترګه راته وګورئ!

په افغانستان کې ښځې د نارینه واکې په دایره کې په بېلابېلو بڼو توهینېږي. د دې توهینونو په لړ کې یوه بېله دا ده چې ښځه ناقص العقله بلل کېږي. ښځې چې هر څومره ښه کار وکړي او د کورني او ټولنیز ژوند د بارونو درانه پیټي هم وچلوي، خو کله چې د نارینه لږ پام بدل شي او کارونه یې په مزاج برابر نه وي، نو بیا د توهین همدا یوه جمله ورته کاروي: «ښځه ناقص العقله ده.»

«یو ځوانکي به ویل:

ښځې عقل نه لري.

یو پوه په سړه سینه داسې ځواب ورکړ:

هو ښځه عقل نه لري، بېعقلي یې په دې کې ده چې تا غوندې یو جاهل یې نهه میاشتې په نس کې وروزه او له ځانسره یې وګرځاوه، دوه کاله یې له سرو غوښنو سپېڼې پۍ درکړې او شل کاله دې ته ودرېده چې تا غوندې یو احمق رالوی شي او خپلې مور ته د «ناقص العقل» په ویلو سره سپکاوی ورته وکړي.»



زموږ په ټولنه کې، عملاً دا ثابته شوې ده چې ښځې ناقص العقلي نه، بلکې ښې هوښیارې او ذهیني دي، په دې شرط چې د زدکړو او کار زمینه ورته برابره شي. دلته به یې د څو بېلګو یادونه وکړم:

د افغانستان له دایکندې غوندې وروسته پاتې ولایت څخه مېرمن شکردخت جعفرى په ۲۰۱۳ ام کال کې د افغانستان د لوړو زدکړو وزارت او د انګلستان د «ساري» پوهنتون (University of Surrey) له لوري د سرطان ناروغی د درملنې وسیلې د مخترع په صفت وپېژندل شوه.

دغه راز مېرمن شکردخت جعفرى په انګلستان کې داسې څه کشف کړل چې په خپله انګلیسان ورته حیران شول او د ۲۰۱۶ ام کال د اختراع جایزه یې خپله کړله.



د افغانستان د نجونو روباټیک ټیم دننه په افغانستان کې او تر هېواد دباندې داسې لاسته راوړنې لري چې په ریښتیا د حساب وړ او د هېواداوالو له پاره د ویاړ وړ دي. امریکایي فوربز مجلې د دې ټیم لاسته راوړنو ته په کتو سره د دوی نوم د غوره ځوانانو په نوملړ کې شامل کړ، دا یې د رپوټ یوه برخه ده:

«امریکایي مجلې فوربز د ۲۰۲۱ کال په نوملړ کې د افغان د نجونو روباټیک ټیم د اسیا په کچه له ۳۰ کلنې د کم عمره غوره ۳۰ ځوانانو په ډله کې شامل کړی دی.

فوربز مجلې لیکلي، د افغانستان د نجونو روباټیک ټیم د کوېډ نولس ناروغۍ له ناروغانو سره د مرستې لپاره د مصنوعي تنفس اله جوړه کړې چې تمه ده له ارزونو وروسته به په دغه برخه کې د افغانستان اړتیا پوره کړي.

د افغانستان د نجونو روباټیک ټیم په دغه هېواد کې د کورونا وېروس له خپرېدو سم د کوېډ - نولس ناروغانو ته د موټرو له پرزو ټیټ بیه وینټیلاټور یا د مصنوعي تنفس اله جوړه کړه.

ددغه ټیم یوه غړې سمیه فاروقي وایي، کله چې په فوربز مجله کې د خپل ټیم له راتلو څخه خبر شوه، د ویاړ احساس یې وکړ:

"نوملیکنه مو ورته کړې وه، خو بیا خبر نه وو چې پکې منل شوي یوو. طبعا ډېر خوشاله یوو چې یو ځل بیا مو وکولی شول ځانونو او افغانستان ته ویاړ ور په برخه کړو. ما ان فکر هم نه شو کولی چې یوه ورځ دې د فوربېز په څېر مجلې په نوملړ کې راشو".

د افغانستان د نجونو روباټیک ټیم بنسټګرې او لارښودې رویا محبوب له بي بي سي سره خبرو کې په فوربز مجلې په وروستي نوملړ کې د افغان نجونو راتلل ستره بریا او دا یې د افغان ښځو د ځواکمنتیا نښه وبلله...»



دا دویم ځل دی چې د افغانستان پوهنتونونو ته د ننوتلو په عمومي کانکور کې د غریبو کورونیو تش لاسې نجونې تر ټولو لوړې مقام خپلوي او تر ټولو جګې نومرې ګټي. دا دوې نجونې یوه شمسیه نومېړې بله یې سلګۍ.

شمسیه د ۲۰۲۰ ام کال د کانکور اول نومره شوه او سلگی د ۲۰۲۱ ام کال. ما د شمسيي او سلگی د برياوو د خوشالی په پار په خپل وخت کي مفصلي مقالي ليکي دي.

د شمسي د بريا د خوشالی له پاره زما د ليکلي مقالي لينک:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_shamsyia_barya.pdf

د سلگی د بريا د خوشالی له پاره زما د ليکلي مقالي لينک:

http://dawatmedia24.com/%D9%85%D9%82%D8%A7%D9%84%DB%90/133587/

د وطن د دغو دوو پيغلو دا ستره بريا ناقص العقلتوب دی، که هوښياري او پوهه؟

دغه راز افغان دوه ويشت کلنه  محدسه ميرضايي وتوانيده چي په برياليتوب سره مسافر وړونکي الوتکه له کابل څخه هرات ته والوزوي او تر اوږده سفر وروسته يي بېرته کابل ته راولي. دا  د سويلي اسيا په کچه د ريکارد بنه لري او هغو کسانو ته ډېر بنه او عملي ځواب دی چي وايي: ښځي ناقص العقلي؟ دي.

هغه ښاغلي؟ چي وايي ښځي ناقض العقلي دي، هغوی دې ووايي چي په دې پاسنی بېلگي کي د ناقص العقلی پاينټ يا نښه کومه ده؟

دا د هغه ريوټ يوه برخه ده چي د لومړي ځل لپاره افغان مېرمنو د الوتني ټولي چارې خپله ترسره کړي دي:«



په افغانستان کي په لومړي ځل افغان مېرمنو د يوې سپرلی وړونکي الوتکي د الوتني ټولي چارې ترسره کړې دي.

د افغانستان هوايي چلند اداري ويلي ۲۲ کلنه محدسه ميرضايي د سويلي اسيا په کچه هم لومړنۍ مېرمن ده چې د نورو نجونې عملي سره يې د يوه سوداګريز ملکي هوايي پرواز د کپتاني رول ترسره کړی.
دغه الوتنه تېره چارشنبه له پلازميني کابله هرات او له هغه ځايه بېرته د کابل په لوري د کام ايير خصوصي شرکت لخوا تر سره شو چې د سويلي اسيا په کچه هم د مېرمنو په مديريت يې د لومړۍ الوتني ريکارډ خپل کړی.

د کام ايير خصوصي هوايي شرکت سوداګريز مسوول سليمان عمر بي بي سي ته وويل: "په دې الوتنه کې زمونږ ۶ تنو کارکوونکو برخه اخيستې وه دوه تنو يې د الوتنې الوتلو مسوليت او څلور نورو يې مسافرو ته د خدماتو رسولو مسوليت درلود دا له کابله هرات او له هغه ځايه بېرته کابل ته وار له مخه پلان شوی سفر و چې په خپل وخت د افغان مېرمنو لخوا په خپلواکه بڼه د ترسره کېدو ريکارډ يې ثبت کړ".

ښاغلی عمر وايي له دې بريالي سفر وروسته به د مېرمنو په لاس د الوتنو لړۍ روانه وساتي.

کام اير شرکت ۱۴ ولايتونو او نهه هېوادونو ته الوتنې لري.

په افغانستان کې اوس د کام ايير خصوصي شرکت تر څنګ، د اريانا او باختر دولتي هوايي شرکتونه فعال دي چې د چارواکو په وينا د مېرمنو ونډه په کې تر ډېره خدماتي جوړوي.

د افغانستان د هوايي چلند اداري د ۲۲ کلنې مهدسې ميرضايي په کپتانۍ د افغان مېرمنو لخوا په خپلواکه ډول د ۳۵۰ نيوټيکل ميله الوتنې تر سره کول، د سويلي اسيا په کچه ريکارډ بللی او په وينا يې دا د مېرمنو او افغان هوايي سکتور پياوړتيا ښيي.

د يادې اداري مشر قاسم وفايي زاده بي بي سي ته وويل دا ښيي چې افغان مېرمنې ان د ډېرو تخنيکي چارو مديريت په يوازې سر کولای شي.

په افغانستان کې په پرلپسې ډول د څو هوايي شرکتونو سقوط او په ځينوهغو يې بنديزونو د دې هېواد هوايي شرکتونو په فعاليت او خدماتو بد اغېز پرېښی خو د دې هېواد هوايي چلند اداري ويلي شته هوايي شرکتونه اوس يو په بل پسې د مسلکيتوب او معيار خوا ته ګامونه اخلي.»

د افغنستان، افغانانو او افغان مېرمنو يوه خواخوږي، د افغان مېرمنو د دې بريا په پار په خپله فيسبوکپاڼه کې داسې وليکل:

«د نن ورځې د وياړ خبر دا دی چې د هېواد په ټول تاريخ کې په لومړي ځل دوه ويشت کلنې پېغلې محدثې ميرزايي زاده له کابل څخه هرات ته يوه ملکي الوتکه والوځوله. د الوتکې ټولې کارمنانې مېرمنې وې. پر دې هيله چې يوه ورځ افغان مېرمنې سپوږمۍ، مريخ او نورو سيارو ته والوځي.»

هغه څوک چې د افغانستان مېرمنې ناقص العقلې ګڼي، ښايي د هغو له نظره د اروپا دا دوې ښځينه مشرانې هم ناقص العقلې وي، خو دا دواړه مېرمنې په ملي او نړيواله کچه د کار او هوښيارتيا ډېرې ښې بېلګې دي:

انګلا مرکل (Angela Merkel) هم يوه ښځه ده، هغې د صدراعظمې په حيث، په اروپا کې تر ټولو اوږده موده د جرمني غوندې هېواد بريالی لارښوونه وکړه، دا د داسې هېواد مشره وه چې د پرمختللې تخنيک او ستر اقتصاد يوه غوره بېلګه ده. مرکل په عمل کې ثابته کړې ده چې دا ناقص العقلې نه، بلکې د کار، هوښيارتيا، زدکړو له خپل وطن، خلکو او انسانيت سره د مينې يوه بې مثاله مشره وه.




د ډنمارک د برحالې صدراعظمې مېرمن «*Mette Frederiksen*» کار او زیار دا ثابتوي چې هغه ځومره هوښیاره او ذهینه ښځه ده. دا د دولت د بریالۍ لارښونې تر څنګ حتی خپل شخصي کارونه هم خپله ترسره کوي. په لاندې عکس کې مېرمن «*Mette Frederiksen*» لیدل کېږي چې د خپل کور کړکۍ په خپله پاکوي:



په ټوله نړۍ کې تاریخي اسناد ګواهي ورکوي چې د تاریخ په اوږدو کې تر ټولو ډېر ورانی او وژنې نارینه وو کړي دي، خو ناقص العقل بیا ښځې ته ویل کېږي؛ نو هغه ښاغلي؟ چې اوس هم ښځې ناقص العقلې ګڼي، ګڼي دي.